# باچا خان
# يو بې بدله رهبر

هدايت الله خان

د نولسمې صدۍ وړومبۍ نيمايۍ کښې چې پېرنګي سامراج د ګرېټ ګېم په نوم د روس د پښو غزولو خلاف د کوم بالواسطه جنګ آغاز کړے ؤ، د پښتون ملت وطن د خپلې جغرافيائي محل وقوع له وجې د دې ميدان جوړ شو. د دغې صدۍ په اخر کښې په دې جنګ کښې د کاميابۍ د پاره پېرنګي سامراج پښتون وطن د څوارلس سوه ميله اوږدې کرښې په ذريعه تقسيم کړو او د خپلې بدنامې فارورډ پاليسۍ او په دې کښې حائل د پښتون ملت متعلق ئې خپلې ارادې ښکاره کړې. د دې پاليسۍ لاندې **1901** کښې د دريائے سندهـ او پښتنې قبائلي پټۍ تر مينځه ئې يوه نوې صوبه د شمال مغربي سرحدي صوبې په شکل کښې جوړه کړه. د پاليسۍ د مقاصدو د تر لاسه کولو د پاره ئې دا صوبه په آئيني، سياسي او بندوبستي توګه د ټول هندوستان نه راوشوکوله او د يوې فوجي چاونۍ او د پېرنګي فوځ د پاره په يو ټرېننګ سنټر کښې بدله کړې شوه. د نور هندوستان برعکس په دې صوبه کښې د آئيني او سياسي حقونو نه مکمل انکار په دې صوبه کښې د وحشت او دهشت راج قائم کړے ؤ او د جواز د پاره ئې پښتون قام د دنيا په وړاندې د وحشي او خونخوار په نوم معرفي کړو. په اصل کښې د پښتنو په ملي تاريخ کښې د دغې دور نه د غميزو آغاز وشو چې تراوسه جاري دے. د شديد ترين جمود او تناؤ او بدترين محکوميت په دې نامساعدو حالاتو کښې د برصغير په دې راشوکولې شوې ګُټ کښې يو بې مثاله او د ځانګړې شخصيت ښتن پېدا شو.

د پښتون ملت د دې جليل القدر هستۍ او د برصغير د ازادۍ د مبارزې دا عظيم المرتبت رهنما باچا خان د جنوبي ايشيا د شلمې صدۍ په تاريخ کښې هغه نۀ ورانېدونکې نقشونه جوړ کړل چې دې ئې د هم عصرو مشرانو نه منفرد او ځانګړے کړو. د دۀ د اتيا کالو مجاهدانه ژوند منفرد او ځانګړې خصوصيات د تاريخ د طالب علمانو د پاره د تحقيق نادرې خزانې دي. په دې مضمون کښې د موجوده علاقائي او عالمي حالاتو په تناظر کښې د دۀ د مبارزې د څو منفردو خصوصياتو لنډه شان جائزه وړاندې کولې شي.

په دغو مخصوصو حالاتو کښې د باچا خان د منفرد شخصيت د تجزيې کولو د پاره د شلمې صدۍ په شروع کښې صوبه سرحد کښې د پېرنګي سامراج د مخصوصو او مخدوشو حالاتو ادراک ضروري دے.

د فارورډ پاليسۍ له وجې دا پټۍ او د آمو درياب ترمنځ د پښتنو دا وطن، افغانستان بفر سټېټ وګرځولے شو. د فارورډ پاليسۍ د مقاصدو

د حصول دپاره د پېرنګي په نزد اهم ترين هدف دلته سيکيورټي وه. نو ځکه د پېرنګي دپاره د پاليسۍ په توګه دا خبره ضروري وه چې پښتانهٔ د هر قسم آئيني او سياسي او جمهوري حقونو نه لاس په سر وساتلے شي. د رائې ورکولو حق، د قانون سازو او جمهوري ادارو او ګوندونو قيام تر دې چې بلدياتي انتخابونه د دوي دپاره کالعدم وګرځولي شو. د دې يو اهم مثال **1909** کښې مارلے منټو ريفارمز او **1919** کښې مانټيګو چېمسفورډ ريفارمز دي. چې په ټول هندوستان کښې نافذ کړے شو او صرف صوبه سرحد ترې محروم وساتلے شو. د دې وجه دا وه چې کوم قوم د فارورډ پاليسۍ په لار کښې خنډ ؤ، د هغوي سياسي، جمهوري بېداري او د انساني حقونو شعور او پوهې به د پېرنګي دپاره يقيناً مسئله نوره هم کړکېچنه کړې وه. د پښتنو د ملي تاريخ په دې تور دور کښې د قوم د خلاصي او لاربښودنې دپاره په همه ګيره سطح يو مشر هم موجود نهٔ ؤ. په دې مخصوصو حالاتو کښې د پښتنو د زيلي ورځې او غلامۍ د ذلتونو د احساس دپاره د باچا خان راپيدا کېدل، او په ټوله پښتونخوا کښې خورېدل او بيا د برصغير په سياسي منظر کښې راښکاره کېدل د دې سيمې په تاريخ کښې يقيناً يوه ځانګړې واقعه وه چې مثال ئې ډېر په ګرانه مونده شي. هغهٔ ته نهٔ خو ليډري د پلار نيکهٔ نه په ميراث کښې پاتې وه او نهٔ د هغه وخت په حالاتو کښې د هغهٔ د تربيت څهٔ ذريعه موجوده وه. د پېرنګي د استحصال او ظلم زور او د خپل قوم د زوال او غلامۍ مشاهدې کولو د باچا خان حساسيت نور هم سېوا کړو. صوبه سرحد کښې هغه وخت نهٔ خو اخبارونه يا رسالې چاپ کېدې او نهٔ د بهر نه دلته راتلې. د صوبې خلق د هندوستان نه او د هندوستان خلق د صوبې نه په مکمله توګه بې خبره ساتلے شوي وو. باچا خان د حالاتو نه د خبرېدو دپاره د هندوستان نه خورېدونکې ورځپاڼه «زميندار» او د مولانا ابوالکلام ازاد هفته وار «الهلال» جاري کړل. هغهٔ مسلسل د هندوستان د ښارونو اګرې، دهلي او بمبۍ وغېره دورې وکړې. په دې دورو کښې هغهٔ د دېوبند تحريک د مشرانو عبېدالله سندهي، مولانا محمود الحسن او دارالعلوم دېوبند سره روابط قائم کړل. دغه شان ئې د کانګرس او مسلم ليګ په غونډو کښې هم ګډون کولو او د ګاندهي جي، نهرو، مولانا ازاد او محمد علي جوهر سره ئې ملاقاتونه وکړل او د برصغير په حالاتو ئې د ټولو د خيالاتو نه ځان خبر کړو. دې دورو او ملاقاتونو او د برصغير د سياسي حالاتو نېغ په نېغه مشاهدې هغهٔ ته د سياسي تربيت موقعې په لاس ورکړې. د باچا خان د شخصيت دا اړخ د يو اوږد تفصيل غوښتنه کوي. خو د مضمون د طوالت له وجې د دې خلاصه دا ده چې د شلمې صدۍ په برصغير کښې دا يو ځانګړے مثال دے چې د هغه وخت د صوبه سرحد د اړي ګړي او دباؤ په بدترين ماحول کښې د څهٔ قسم سياسي پليټ فارم د عدم موجودګۍ باوجود د شلو کالو په کم عمر کښې او په ډېره بې سروسامانۍ کښې يک تنها باچا خان د خپل سياسي تربيت ذريعې ځان ته پخپله ولټولې. دغه شان د پښتون ملت او هندوستان په مخ د يو ستر مبارز په توګه د باچا

خان پیدا کېدل د هغۀ د مبارزې اولین امتیاز او انفرادیت دے.

د باچا خان د مبارزې دوېم لوئے انفرادیت دا دے چې هغۀ په برصغیر کښې په وړومبي ځل په سیاست کښې د خدمت د فلسفې عملي تصور وړاندې کړو. په **1910** کښې په اتمانزو کښې د وړومبي ازاد سکول جوړول د دې فلسفې د عمل آغاز ؤ چې وروستو دغه نظام انجمن اصلاح الافاغنه د سېورې لاندې په باضابطه توګه د صوبې نورو بندوبستي علاقو ته خور کړے شو. **1929** کښې د خدائي خدمتګار تحریک جوړېدل د دې فلسفې د عملي نمونې عروج ؤ. د باچا خان مبارزه او اصلاحي تحریک د بې غرضه خدمت حقیقي او اولین مثال ؤ. د باچا خان د اصلاحي مبارزې مقصد هغه وخت د موجودو دوؤ خرابیو نه قوم خلاصول وو. اول د پېرنګیانو د لاسه بدترین استحصال او د هغوي د تپلې شوي آئیني، سیاسي، جمهوري او تعلیمي محرومۍ او دوېم په خپله د پښتني ټولنې د ترقۍ او سوکالۍ په لاره کښې خنډ د ټولنې خپلې خامیانې. هغۀ به همېشه د تحریک په دوران کښې د اتلسمې صدۍ د نیمائي پورې د پښتنو د عروج حواله ورکوله او د هغوي د پستۍ او زوال د اسبابو په توګه به ئې دوي ته خپلې ټولنیزې او سماجي خرابۍ په ګوته کولې. دوي به وئیل چې د پېرنګیانو د استحصال او غلامۍ نه د خلاصون د پاره ضروري ده چې مونږ خپلې معاشرتي خرابۍ لرې کړو. هغۀ ته احساس ؤ چې قوم ته د شعور او بېدارۍ ضرورت دے. خو دا د تعلیم نه بغیر امکان نۀ لري. دا هغه دور ؤ چې د پېرنګي مراعات یافته او حمایت یافته طبقو د پاره په سرکاري وظیفو د انګلستان تعلیمي ادارو ته رسېدل او هلته تعلیم حاصلول ممکن وو خو د غریبانو پښتنو د بچو د پاره په صوبه کښې هم د هیڅ قسمه تعلیم بندوبست نۀ ؤ. د دې کمي پوره کولو د پاره باچا خان د صوبې په بندوبستي علاقو کښې د انجمن اصلاح الافاغنه د سېورې لاندې د تعلیم بندوبست وکړو. د قومي اصلاح په سلسله کښې باچا خان ته د پښتنو د یوې بلې تباه کونکې خامۍ احساس هم ؤ. د خانداني او قبائلي دشمنو او جنګونو له وجې په صدیو او نسلونو روان تشدد او د وینو تویولو تسلسل پښتانۀ من حیث القوم شل کړي وو. د انجمن اصلاح الافاغنه او بیا وروستو د خدائي خدمتګار تحریک په مقاصدو کښې یوه اعلي او ارفع مقصد د دې دښمنیو او د هر قسم تشدد نه ډکو رجحاناتو د روغې جوړې او امن په ذریعه ختمول وو. په تحریک کښې شاملېدو د پاره چې د رضاکارو د پاره کوم سوګند وچتول ضروري وو د هغې په ټولو شقونو کښې په لفظ ((بې لوث)) ډېر زور راوړلے شوے ؤ. باچا خان چې د خدائي خدمتګارو تربیت په څۀ رنګ کړے ؤ د هغې نه په هغوي کښې د قومي خدمت او اصلاح د شعور سره سره هغه اخلاق او اوصاف پیدا شول چې د هغې نه د عالمي تاریخ دا وړومبے بې وسلې لښکر History's first army without guns د انسانیت پرورۍ د خصوصیاتو سره سره د انسانیت دوستۍ تحریک کښې بدل شو. یو لک خدائي خدمتګار په معنوي او عملي اعتبار هیومنسټ وو. د هیومنزم په دې مبارزه کښې باچا خان د پښتنو د زړګونو کلیو او بانډو څو څو واره پیاده دورې وکړې. د هر پښتون دروازه ئې وټکوله او د انساني عظمت احساس ئې ورته ورکړو. د باچا خان د اسلامي مبارزې دا اړخ هم یوه پراخه موضوع ده.

د باچا خان د تحریک یو بل بلکې د علاقائي او عالمي حالاتو په تناظر کښې اهم ترین انفرادیت د هغهٔ په مبارزه کښې د امن او عدم تشدد عنصر ؤ. د ټولو نه اول په دې حواله د یو غلط العام تصور وضاحت ډېر ضروري دے. د برصغیر د ازادۍ د مبارزې په تاریخ کښې د باچا خان د عدم تشدد فلسفه د ګاندهي جي د نظریهٔ عدم تشدد نه ماخوذ تصور شوې ده. د دې غلط فهمۍ یوه وجه د هندوستان په مجموعي کچ د مهاتما ګاندهي د مشرۍ لاندې د عدم تشدد په اصولو د کانګرس د روان جدوجهد لوئے والے او همه ګیریت ؤ. دویمه وجه ئې دا وه چې د دواړو نظریو د هم آهنګۍ په وجه د باچا خان د کانګرس د جدوجهد طرز ته نزدې کېدل دي. خو په حقیقت کښې اصلي صورت حال په قطعي توګه جدا دے. د قومي اصلاح د تحریک د ضرورت دپاره د عدم تشدد نظریه خپلول د باچا خان خپله فېصله وه. باچا خان په خپله وائي چې ما د عدم تشدد نظریه د قرآن پاک او د پېغمبر صلي الله علېه وسلم د ژوند نه اخستې ده. باچا خان وائي چې د پېغمبر صلي الله علېه وسلم د هجرت نه مخکښې مکي ژوند د عدم تشدد ژوندۍ نظریه ده. باچا خان به د طائف واقعه د عدم تشدد د یو ماډل په توګه وړاندې کوله. هغهٔ به دا هم وئیل چې عدم تشدد د ګاندهي جي پالیسي ده او زما عقیده ده.

باچا خان د عدم تشدد د تبلیغ آغاز د **1910** نه وکړو. دغه وخت ګاندهي جي د هندوستان د سیاسي منظر نه ډېر لرې په جنوبي افریقه کښې اوسېدو او آئنده ډېرو کلونو پورې لا دې منظر ته راغلے نهٔ ؤ او نهٔ کانګرس تر هغه وخته د عدم تشدد نظریه خپله کړې وه او داسې به څنګه شوے وې چې د عدم تشدد نظریه لرونکي ګاندهي لا تراوسه د هغې مشرې په غاړه نهٔ وه اخستې. په **1920** کښې د انډین نېشنل کانګرس ناګپور سېشن هغه غونډه وه چې کانګرس پکښې په وړومبي ځل د عدم تشدد د اصولو لاندې د مکمل سېلف رول دپاره د جدوجهد باضابطه اعلان وکړو. د کانګرس په دې اجلاس کښې باچا خان په باقاعده توګه شرکت وکړو. د غور وړ خبره دا ده چې باچا خان د دې غونډې نه لس کاله وړاندې پښتنو ته د عدم تشدد او امن تبلیغ شروع کړے ؤ. دغه شان د تحریک په دوران کښې د خدائي خدمتګارو په خپل ځان د عدم تشدد د نظریې عملي نفاذ او په دې حقیقي عمل کول د کانګرس په مقابله کښې د خدائي خدمتګار تحریک ځانګړتیا وه.

پښتون قام د عدم تشدد د اصولو سره اشنا کول د باچا خان ډېر لوئے احسان ؤ او د دې نه انحراف او دا اصول هېرول د یو قوم په حېثیت احسان فراموشي ده او د موجوده تباهۍ وجه هم ده. په شلمه صدۍ کښې په دنیا کښې یو څو انسانان وو چې د امن د مقدس کار دپاره ورته د عملي جدوجهد کرېډټ حاصل دے. د باچا خان نوم په دوي ټولو کښې سرفهرست دے خو غضب دا دے چې په **1985** کښې نوبل پیس پرائز کمېټۍ د دغه کال دپاره باچا خان وټاکلو او د دې کرېډټ اعتراف ئې وکړو خو د هغه وخت پاکستاني حکومت د خپلو سرکاري او سفارتي وسائلو استعمالولو په وجه باچا خان ته د امن نوبل پرائز ورنهٔ کړے شو چې دا ترې ثابته شوه چې نوبل پرائز کمېټۍ او دغه شان بې شمېره ادارې خپلې فېصلې د شخصیاتو په استحقاق نهٔ کوي بلکې د متعلقه حکومتونو د سرکاري سرپرستۍ په بنیاد ئې کوي. د باچا خان په شان ملنګ د دنیاوي انعام او اکرام، نمود او نمائش او اقتدار او مراتبو نه ماورا او بې نیازه وي خو په دې ملنګ کښې پټ عظمت او د هغې اعتراف په ټولې دنیا لازم دے. په **1934** او **1946** کښې دوه واره د انډین نېشنل کانګرس د

صدارت د پېشکش نه معذرت کول او د يو درو ېشانه شان سره د يو کارکن په توګه د کار کولو د خواهش اظهار کول د باچا خان د درو ېشانه خوئي خصلت او لوئې والي ثبوت دے.

شلمې صدۍ خو باچا خان هېر کړے ؤ خو د يوويشتمې صدۍ په ويره ترهه کښې راګېرې دنيا ته د باچا خان پېغام ډېر ډېر رايادېږي. د باچا خان غېر ملکي مصنفين او محققين، د امريکې اېکنات ايسوارن او ټي سي لوهان، د سوېډن جانس او د هندوستان راجموهن ګاندهي د باچا خان د عدم تشدد او امن مبارزې آفاقي پېغام ګرځوي او د ويرې ترهې او تشدد په لُومه کښې نښتې دنيا ته ئې د اميد د يوې پلوشې په توګه وړاندې کوي.

(د امجد شهزاد ترجمه)